

**ليکونکي** :پيتراوبورون «Peter Oborne»
**منبع اودخپريدو نيټه:** گلوبال ريسرچ «2023-08-08 »
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل» .

---

# عمران خا ن هغه کس دی کوم چي آمريکا هغه ديوپاکستا نی سياستوال په بڼه پيژنی اوله هغه څخه کرکه لري

# Imran Khan is exactly what the US hates in Pakistan politician

خان د خپل سيا سی انګيزی اوتحرک په لرلو سره چي زندان ته اچول کيږي اود آمريکي متحده ايالات دهغي د زنداني کيد و په اړه څه غبرګون نه ښيی اويا دهغه زندانی کيدنه نه غندی نو دا پخپله دواشنګټن دسياست اوږد تاريخ تاييدو چي واشنګتن دکتاتورانه دخپل ملي ګټو دترلاسه کولو لپاره ګماری اويا له قدرت څخه ليري کوي

**Lack of condemnation from the US over Khan's politically motivated imprisonment only confirms Washington's long history of preferring dictators pliable to its interests**



*تیره اونی دروسی مخالف شاغلي الکسی ناوالنی(Alexi Navalny) افراطیانو ته دمالی مرستی اودنازي دایدیولوژی په لرلو سره تورن اودروسي دمحکمی په حکم سره په (19) بند محکوم شو.*

*نودهغی د محکومیت په اړه سمدلاسه متحده ایالات اوبریتانیا د روسي دغه اقدام وغندل دامریکي دمتحده ایالاتودبا ند نیو چارو د وزارت لوړ پوړي مقام دغه محکومیت غیر عادلانه وبلل.*

*جمیز کلورلی (James Cleverly) د بریتا نیا دبا ند نیو چارو وزیر ادعا وکړه چي دروسيي دغه کړنه دهغه هیواد دپوره بی پروایی اودلمړنی بشری حقونو دررعایت کولو څخه سرغړونه ده ، هغه په پوره ایمانداری سره زیا ته کړه«نشو کولی چی د مخالفانو پر خولو باندی برغولي کیږدو یا هغوی چُپ کړوو».*

*اما دری ورځی وروسته **عمران خا ن** دپاکستان له دندی لیری شوی لمړی وزیر چي تیر کال په یوه دیموکراتیک تولټاکنو کي دپاکستان لمړی وزیر ټاکل شوی وه د کانګورو دمحکمی په حکم سره په دري کال بند محکوم شو.*

*دغه پورتني ذکرشوی دواړه قضیی په یو بوږنونکي بڼی سره پوره ورته والي لري ، یوڅه لږ شمیر خلک پر **ناوالنی** باندی پر لګول شوی تورونو با ور کوي اوهغه داچي هغه په نازی ایدیولوژی تورن کس چي له سیا سی ډګر څخه حذ ف کیږی **ولادیمر پوتین** ته یو حیا تي اهمیت لری اوبیا په ځا نګړي بڼی کوم چي د روسیی د جمهوری ریاست تولټاکنی را نژدی دی یعنی چي د مارچ په میا شت کال (2024) ترسره کیږي .*

*نوپه همدي بڼه ډیر کم خلک په دي باور دي اوهغه داچي پر**عمران خان** د فسا د تورنه لګول د منلو وړ دي ، نو په دي حا ل سره دهغه یعنی د**عمران خان** لیری کول اوهغه ته په راتلونکي انتخاباتو کي دنه ګډون آمر چي سږکال په پاکستان کي به ترسره شي پاکستانی مقاماتو ته یو سیاسی ارزښت او اهمیت لري .*

*تاریک فکره ځواکونه وجود لري چي غواړي دغه دواړه کس یا سړی [**ناوالنی** او **عمران خان**] دهغو دلاری څخه بچ کړل شي – **ناوالني** دری کاله دمخه دمسموم کول کړنه پیل کړي وو ، په داسي حال کي چي (**خان**) دتیرکال په وروستیو کي دسوقصد په یوه پیښه کي ټپی شوو ،.*

*راځی چي داتریخ حقیقت ومنواوهغه داچي **الکسی ناوالنی** او**عمرانخان** دواړه سیاسی بندیان دی ، چي دروسی او پاکستان دچارواکو له خوا په تورونو محکوم شوي دي .*

*دپاکستان **عمران خان** دامریکي سره په مخالفت درګیریا مخامخ شوچي تولوته څرګند دي نوبیاهم ولویدیځ یواځی ددوی دبرخه لیک په اړه اند ینمن دي .*

## دوګوني معیارونه :

د امریکي دمتحده ایالاتودبا ند نیو دچارو وزارت وزیر ښاغلي ***انتونی بلنکین*** په بیره او چټکي سره دروسي پرحکومت باندی له دی نه چي ***الکسی ناوالنی*** یی په بند محکوم کړی دهغه هیواد پرتصمیم نیونکی باندی دانتقاد په کولو سره د نوموړي محکومیت وغند له اوداسی ادعا یی وکړ چي هغه دروسیی دمخا لفو ډلو درهبر اود مشر په تهمت سره بند ته اچولي یعنی چی دهغه بندی کیدو ته یوسیا سی وجهه ورکړ اوزیاته یی کړ چي کرملین نشی کولی له حقیقت څخه سترګي پټی کړی نو ***ناوالنی*** دی زر تر زره باید له بند څخه آزاد کړي .

حال داچي دامریکي متحده ایالاتو لوړ پوړي چارواکي د (***خان*** ) د بندی کیدو په اړه هیڅ غبرګون ونه ښودل اوپاکستانی مقامات یی دهغه پر بندی کیدو باندي هیڅ ونه غندل چی دا پخپله یعنی امریکی ددوګونو معیارانو یو له مجرمانو څخه شمیرل کیږي یعنی یو بام او دوه هوا

همدارنګه د بریتانیادبا ندنیو دچارو وزیر په ورته بنی سره د***عمران خان*** دمحکومیت په اړه چي دپاکستان ددولت له خوا ترسره شوی هم هغه له ځانه هیڅ غبرګون ونه ښودل چی هغه هم دمضاعف معیارونو یو مجرم بلل کیږي .

بریتا نیا اوامریکي دواړه به په دي پوره پوه وي چي د(***خان***) پرضد د فسا د تورونه له رسمی سوغا تونوڅخه ګټه پورته کول ډیرکمزوری اوچندان تینګ بسټ نه لري او هغه داچي (***خان***) دخپل تصدی یا زمامداری په وخت کي د د بهرنیا نوله خوا دسوغاتونو ورکولو باندی نوی قانون را مینځته کړ او هغه داچي زمامداران کله چی پخپل رسمی سفرونو کي ګران قیمت سوغاتونه تر لاسه کول نو هغوی کولی شو چی دهغه سوغات د ارزش (20) سلنه په ورکولوسره کوم چي د***توشاخان*** دکمیټي له طرفه چي پرهغه سوغات باند قیمت ایښی وه وپیری – نو ***عمران خان*** دغه قانون بدل کړ او (20) سلنه یي په (50) سلنه واړول .

## دروغجنی ادعاوي :

***عمران خان*** نن د هیواد تر تولو مشهور سیاستوال دی ښظرپوښتني ښیي چې هغه به په هر ډول ازادو او عادلانه ټاکنو کې بریا خپله کړي .

له ***خان*** پرته په پاکستان کې د ټاکنو ترسره کول به داسې وي لکه د شهزاده پرته د شکسپیر هیملټ .

*ځوک چې له **خان** پرته ټاکنې وګټي هغه به صفر سیا سي  مشروعیت ولري ، او د متحده ایالاتو په استازیتوب به د محلي مراجعینو واکمن په توګه سپکاوی کیږي  .*

*د **خان** په اړه، هغه د دیموکراتیک پلوه مشروع ملي مشرانو  په  اوږد لیست کې شامل شو چې د یوې خپلواکې بهرنی تګلارې په جوړولو سره په  متحده ایالاتو باندې د تاثیر کولو لیوالتیا درلوده .*

***محمد مرسي**، چې د مصر لومړنی منتخب ملکي ولسمشر  و، خپل وروستي کلونه په زندان کې تېر کړل، مخکې له دې چې په محکمه کې مړ شي .*

*د چیلي **سلواډور الند** دداسي ټاکنو د ګټلو جرات وکړ چي متحده ایالاتو غوښتل هغه له لاسه ورکړي - او په خورا وحشیانه شرایطو کې له دندې ګوښه شو .*

***علي بوټو**، د پاکستان لومړی منتخب جمهوری مشر، چې د ناپیلو هیوادونو د اتحاد په جوړولو سره یې امریکا ته ننګونه وکړه، په زندان کې پای ته ورسیده چیرې چې هغه په عدالتي توګه ووژل شو .*

*د ایران **محمد مصدق** ډیر نور .*

*دآمریکي اود بریتانیا چوپتیا .*

# دمقالی دلیکوال په اړه څو کرښی :

***پیټر اوبرن** په 2022 او 2017 دواړو کې غوره تبصره/بلاګینګ وګاټه،  او په 2016 کې د ډرم آنلاین میډیا ایوارډونو کې د هغه مقالو لپاره چې د مینځني ختیځ سترګو لپاره یې لیکلي و د کال د فری لانس په توګه وټاکل شو .هغه په 2013 کې د برتانوي پریس ایوارډ کالم لیکونکي په توګه هم نومول شوی و. هغه په 2015 کې د ډیلي  ټیلیګراف د لوی سیا سي کالم لیکونکي  په توګه  استعفا  ورکړه. د هغه وروستی کتاب دی  د ابراهیم برخلیک:  ولې لویدیځ د اسلام  په اړه غلط دی چې د می په میاشت کې سایمون لخوا خپور شو. شستر .د هغه  په پخوانیو  کتابونو  کې شامل  دي د سیا سي طبقې بریا، د سیاسي دروغ راپورته کول، ولې لویدیځ د اټومي ایران په اړه غلط دی  او  په  حقیقت  باندې برید: بورس جانسن، ډونالډ ټرمپ او د نوي اخلاقي بربریت رامینځته کول.*



***-------------  په درناوی (14-08-2023)***